# د ټاکنوخپلواک کمیسیون په علني غونډو کې د ملي او بین المللي استازو او کتونکو د ګډون لایحه

## مبنی

دا لایحه د ټاکنو قانون د (۷۹) مادې پر بنسټ د ټاکنو خپلواک کمیسیون له لوري (له دې وروسته) تصویب دی.

## موخه:

دالایحه د ټاکنو خپلواک کمیسیون او د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون د تشکیل، دندو او صلاحیتونو قانون (۱۲) مادې (۳) فقرې ته په پام د کمیسیون په علني غونډو کې د ملي او بین المللي استازو او کتونکو د ګډون د څرنګوالي اړوند چارې تنظیموي.

## د ګډون څرنګوالی

لومړۍ ماده:

1. کمیسیون د نوماندانو د اسنادو او واکونو ، د رایو صندوقونواو رای شمېرلو په اړه د تقلب د شکایتونو د څېړلو او د ټاکنو د پایلو د اعلان په غونډو کې هغو ملي او بین المللي استازو او کتونکو ته د ګډون بلنه ورکوي چې له کمیسیون څخه یې باورلیکونه ترلاسه کړي وي.
2. د کمیسیون د علني غونډو له جوړېدو ۲۴ ساعته د مخه ګډونوالو ته د ځای او وخت په اړه معلومات ورکول کېږي.
3. ملي او نړیوال استازي او کتونکي د خپلو وظیفوي مکلفیتونو په رعایتولو سره د کمیسیون په علني غونډو کې ګډون کولی شي.
4. ملی او بین المللي استازي او کتونکي بنسټونه باید خپل استازي او کتونکي د کمیسیون علني غونډو کې د ګډون په موخه د نوم، تخلص، د باورلیک د شمېرې او ټیلیفون شمېرې په یادولو سره کمیسیون ته معرفي کړي.
5. هغه استازي او کتونکي چې د کمیسیون په علني غونډو کې ګډون کوي باید عکس لرونکی د هویت کارت په ښکاره ځای کې چې ولیدل شي ولګوي.
6. کله چې زیات استازي او کتونکي په یو وخت د کمیسیون علني غونډو ته حاضر شي، نو کمیسیون د نظم او اسانتیا په موخه هغوی ته مهال وېش برابروي.
7. د غونډې په جریان کې د استازو او کتونکو د ناستې ځای له مخکې څخه ټاکل کېږي او تنظیمېږي.

8. استازي او کتونکي دې د کميسيون غړو ته د غونډې په جريان کې د شفاهي او تحريري نظرياتو له څرګندولو ډډه وکړي.
9. هغه استازي او کتونکي چې د کميسيون په علني غونډو کې د ګډون اجازه لري، د زياتو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره د جلا فرعي غونډو د جوړولو غوښتنه کولی شي.

## د استازي او کتونکي مکلفيتونه

دويمه ماده:

ملي او بين المللي استازي او کتونکي چې د کميسيون په غونډو کې د ګډون لپاره د اړوندو بنسټونو له لوري معرفي کېږي بايد:

١: قوانين، لايحې، طرزالعملونه او اړوندد چلند اصول رعايت کړي.

٢: د کميسيون د احاطې په داخل کې وضع شوي امنيتي مقررات رعايت کړي.

٣: د کميسيون په احاطه کې د نقليه وسايلو د ودرولو په وخت کې د موظفو امنيتي مسوولينو هدايت او لارښوونې عملي کړي.

## سرغړونه

دريمه ماده:

د دې لايحې د موادو د نقض په صورت کې سرغړونکی استازی يا کتونکی د کميسيون په غونډه کې له ګډون څخه محرومېږي.

## انفاذ

څلورمه ماده:

دا لايحه د تصويب له نېټې وروسته نافذه او خپرېږي.